## د ښځو ساده کارونه خو لوی ګناهونه

1. د خاوند له خپلوانو سره یواځیتوب، چې د دې کار خطر له پردي سړي څخه ډیر وي. حضرت محمد صلي الله علیه وسلم فرمایلي: په پردیو ښځو مه ور ننوځئ. له انصارو څخه یوه پوښتنه وکړه: ای د خدای رسوله د حمو (د خاوند د خپلوان) په اړه څه وایې؟
رسول الله صلي الله علیه وسلم ځواب ورکړ: دا مرګ دی.
امام ترمذي د (حمو) په اړه ویلي چې حمو د خاوند ورونو ته وایي او نبي صلي الله علیه وسلم ځکه د خاوند ورونو ته له مرګ سره تشبیه ورکړې چې وښیي د خاوند له ورونو سره واځیتوب مکروه او بد کار دی.
په پورتني حدیث کې له حمو څخه مطلب د خاوند له پلار نه پرته نو ټول خپلوان شامل دي.
امام شوکاني په خپل تفسیر کې فرمایي: له نورو خپلوانو څخه د خاوند ورونه ډیر خطرناک دي ځکه د مرګ سره تشبیح شوي.
نو له مسلمانو خویندو څخه مو دا هیله ده چې پدې اړوند له تساهل څخه کار وانخلي او نه باید خپل رواج ته وګوري ځکه دا رواج د اسلام مخالف دي.

2. ځینې ښځې له محرم نه پرته په موټر کې له نا محرم سره یوازې سپریدل عادي بولي، چې دا هم حرام دي.

Download From; AghaLibrary.com
AghaLibrary.com

د محرم کس نه پرته له نامحرمو سره په موټر کې د ښځو یوازې سپریدل حرام دي. او داسې کارونه ډیرې ناوړه لاسته‌راوړنې لري چې ور څخه سترګې نشو پټولای. که ښځه چیرته ځي باید له ځان سره مشر څوک بوزي، نه ماشوم. ځکه امام نووي وايي: د پردۍ ښځې او نر ترمنځ ماشوم دریم نشي کیدی ځکه له ماشوم څخه حیا نه کیږي او د ماشوم موجودیت هلته کوم مزاحمت نشي کولای.

3. یو له هغو کارونو څخه چې ښځې پکې له تساهل څخه کار اخلي ډاکټر ته د ښځې یواځې تلل دي، پداسې حال کې چې داسې کارونه هم لوی لوی خطرونه لري او د دې کار عادي ګڼل په هیڅ وجه جایز ندي.
که په کور کې سړی نه وي او ښځه ناروغه شي نو ښځه کولای شي له بلې ښځې سره ډاکټر ته ولاړه شي، ترڅو له خلوت څخه چې شرعا ناجایز دی ځان وژغوري.
همدارنګه د ړانده او یا جوړ استاذ سره یواځیتوب ښه ندی او یا په تیاره کې د ښځې خدمتګارې خدمت. دا ټول د هغه پوچ تمدن اغیزې دي چې مونږ یې عادي ګڼو. چې پدې ډله کې په کور کې د خادمې سره هم یواځیتوب ښه ندی او یا د نر خادم سره د ښځې یواځیتوب هم ناجایز دی.
دا یوه لویه ستونزه ده ځکه د ډیری خلکو ښځې خپلو کارونو ته ځي او په کور کې یې خدمتګارې کار کوي چې پدې اړه باید له ډیر احتیاط څخه کار واخیستل شي.

Download From; AghaLibrary.com

## دلاس روغبړ د نارینه اوښځینه وو لپاره

عن مَعْقِلَ بن يَسَارٍ يقول قال رسول اللَّهِ صلى اللَّهُ عليه وسلم لأَنْ يُطْعَنَ في رَأْسِ أَحَدِكُمْ بِمِخْيَطٍ من حَدِيدٍ خَيْرٌ له من أَنْ يَمَسَّ امْرَأَةً لا تَحِلُّ له (المعجم الكبير)

له معقل بن یسار رضي الله تعالی عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : داچي په تاسوکي یوڅوک په سرکي دفولادوپه ستن په زور ووهل شي تردې زیات غوره دی چي له هغي ښځي سره ولګیږي چي ده ته یي مس کول نه وي روا

.

پدې وروستیو پیړیوکي دمسلمانانو په زیات ترو ټولنوکي دناپوهي او استعماري اثر اورسوخ په وجه ځینو شرعي مخالفتونورواج موندلی دی یو هم دهمدغو مخالفتونو له جملې څخه دځینو کارونو تعلق له ښځي سره دی دمثال په توګه دښځي آزادي ته دعوت او له کورونوڅخه دهغوی رااېستل او دهغې لپاره دسیاسي حقونو غوښتل

Download From; AghaLibrary.com

او له نارينه وو سره دهغې اختلاط او ګډون اوله پردیو نارینه وو سره دهغې دلاس دروغبړ بېباکي اودنارينه وو اوښځو په مشترکومحفلونو کي ګډون اومجلسونه کول ، سره له دې چي اسلامي شريعت له دې څخه څرګنده منع کړې ده.

که څه هم تر موجوده وخته پوري الحمد لله پښتنې مېرمني له حياء څخه ډکي دي او دعامو پردیو نارینه وو په وړاندي دپردې اوحجاب په ټېنګه سره پابندي کوي خو په ځينو مواردو کي دلاعلمي په وجه دځينو شرعي مخالفتونو ارتکاب کېږي هغه داچي زمونږځواني مېرمني اوپېغلي له داسي نارينه وو سره دلاس روغبړونه اوکله بيا دغېږي پوښتني اوکله ناکله مجلسونه اوکله بياسفرونه کوي چي هغوی که څه هم په يوه اويابله بڼه يي خپلوان وي خوله محارمو څخه يي نه وي چي د اسلامي شريعت له مخي هغوی ته دا ډول کړه وړه له نامحرمو نارينه وو سره جواز نلري.

لاعلمي ځکه ورته وايو چي کله مونږ له دې ډول روغبړ کوونکيو کسانو سره په دې هکله مشغول شوي يو هغوی هک پک شي اوپه ډېره حيرانتيا سره درته وايي چي داخو خپلوان دي ځيني يي په ځواب کي وايي چي نيت روغ وي او زړه صفا وي پوښتنه څه پروا لري اوځيني بيا وايي چي ستر دزړه ښه دی، مونږ دانه وايو چي داخپلوان نه دي خو اسلامي شريعت ښځي ته له هغه چاسره دلاس روغبړ او خلوت کول يعني په تنهايي کي ورسره کېناستل او سفر ورسره کول حرام ګرزولي دي څوک چي له محارمو څخه نه

وي او په دې هكله ځيني معلومات دشرعي حجاب په بحث كي ذكر شولو خومونږ به په دې بحث كي دلاس روغبړ داسلامي لاربنوونو په رڼاكي وڅېړو ترڅو هغه مسلمان نارينه اوښځينه ورته متوجه شي كوم چي غواړي داسلام په سيوري كي ژوند وكړي اواسلامي اصول يي په كورونو اوورځنيو كړووړو كي پلي شي .

دملاقات كولوپه وخت كي دلاس روغبړكولو ته په عربي ژبه كي مصافحة وايي او دمصافحې تعريف په كتابونوكي داسي شوى دى :

وضع كف على كفٍ مع ملازمة لهما قدر ما يفرغ من السلام .

له سلام كولو څخه ترفارغ كېدلو پورې لاس په لاس كي اېښودل .

امام نووي (رح) په خپل كتاب الأذكار كي ليكي :

( فصل في المصافحة ) : اعلم أنها سنة مجمع عليها عند التلاقي "

پوه شه چي دملاقات كولو په وخت كي دلاس روغبړ يوداسي سنت دى چي ټول علماء وربانديي متفق دي .

وقال ابن بطال : المصافحة حسنة عند عامة العلماء ( الفتح)

ابن بطال وايي دعاموعلماوو په نزد دلاس روغبړ كول يوښه كار دى .

عن قتادة قال : قلت لأنس رضي الله عنه أكانت المصافحة في أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم ؟ قال نعم .(صحيح البخاري)

قتادة رحمة الله تعالی علیه وايي چي ماله أنس رضي الله تعالى عنه څخه پوښتنه وکړه چي آيا درسول الله صلى الله عليه وسلم اصحابویوله بل سره دلاس روغبړونه کول؟ هغه راته وويل : هو!

قال كعب بن مالك رضي الله عنه – في قصة توبته : فقام إليّ طلحة بن عبيد الله رضي الله عنه يهرول حتى صافحني وهنأني .(بخاري ومسلم)

کعب بن مالک رضي الله تعالى عنه دخپلي توبې په قصه کي وايي چي طلحة بن عبيدالله مخي ته منډي راوهلې اودلاس روغبړ يي راسره وکړ او دتوبې دقبلېدلو مبارکي يي راکړه .

عن أنس رضي الله عنه قال : لما جاء أهلُ اليمن ، قال لهم رسول الله صلى الله عليه وسلم : قد جاءكم أهل اليمن ، وهم أول من جاء بالمصافحة (سُنن أبي داود)

أنس رضي الله تعالى عنه وايي چي كله ديمن كسان راغلل رسول الله صلى الله عليه وسلم راته وويل: چي داديمن خلګ راغلي دي او دوی هغه څوک دي چي لمړی يي دلاس روغبړ پيل كړی دی

عن أنس رضي الله عنه قال : قال رجل يا رسول الله ، الرجل منا يلقى أخاه أو صديقه أ ينحني له ؟ قال : لا قال : أفيقبله ؟ قال : لا قال فيأخذ بيده ويصافحه ؟ قال : نعم (الترمذي)

له أنس رضي الله تعالى عنه څخه روايت دی فرمايي : چي يوه سړي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل كه په مونږ.كي يو

سړی له خپل ورور او يا ملګري سره مخامخ کېږي آيا ورته ټيټيږي به؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: نه! بيا يي وپوښتل آيا ښکلوي به يي؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: نه! بيايي وپوښتل آيا لاس به يي نيسي او روغبړ به ورسره کوي ؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: هو!

دلاس روغبړ دنارينه وو له نارينه ووسره او دښځو له ښځو سره مستحب کار دی اولاندي ګټي لري .

١- دګناهونو مغفرت :

عن البراء رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ما من مسلمين يلتقيان فيتصافحان إلا غفر لهما قبل أن يتفرقا ( أبي داود) .

له براء رضي الله تعالی عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: کله چي دوه مسلمانان دملاقات کولوپه وخت کي يوله بل سره دلاس روغبړ کوي مخکي له دې چي يوله بل څخه بېل شي ګناهونه يي ښښل کيږي .

داځکه چي دلاس روغبړ له زړونو څخه کينې اودښمنيوي باسي اوکه يوڅو ک په دې نيت له مسلمان ورور سره دلاس روغبړ وکړي چي رسول الله صلی الله عليه وسلم له خپلو اصحابو سره دلاس روغبړ او دغيږي پوښتنه کړي ده ستر اجريي په نصيب کيږي .

۲- دمتقابلي ميني زياتوالی :

دلاس روغبړ دمسلمانانو په مېنځ کي ميني ته وده ورکوي ، زړونوته اطمينان او ډاډېينه وربښي،اويود بل له زړونوڅخه وېره او بدامني باسي ..

داخو دهغه روغبړ په هکله خبري وې کوم چي دنارينه وو يو له بل سره وي اويا يي ښځينه په خپل مېنځ کي کوي اوس به زمونږ اصلي موضوع ته چي له نارينه وو سره دښځو روغبړ دی وڅېړو آيا دشريعت له نظره له اجنبي نارينه سره دښځي دلاس روغبړ جواز لري اوکه نه؟

دامت علماء اوفقهاء که متقدمين دي اوکه متأخرين پدې هکله په يوه رايه دي چي دنارينه دلاس روغبړ له پردی ښځي سره حرام او ناروا دی او دأهل السنة والجماعة څلور مذهبونه په دې متفق دي او همدغه يي متفقه تګلاره ده او شرعاً ثابت شوي نصوص يي په حراموالي دلالت کوي چي په لاندي توګه دي :

دعايشه رضي الله تعالی عنها داحديث چي فرمايي : کله چي به رسول الله صلی الله عليه وسلم ته مسلماني مېرمني دبيعت کولو لپاره راتللې بيابه يي رسول الله صلی الله عليه وسلم امتحان اخېستلوکله چي به هغوی درسول الله صلی الله عليه وسلم شرطونه ومنل بيا به رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل :

انطلقن فقد بايعتكن ، لا والله ما مست يد رسول الله صلى الله عليه وسلم يد امرأة قط غير أنه يبايعهن بالكلام . (بخاري ومسلم )

ځئ ولاړي شئ ماله تاسو ښځه بيعت واخيستلو، نه زما دقسم په الله تعالى وي چي درسول الله صلى الله عليه وسلم لاس هيڅکله هم دپردئ ښځي له لاس سره نه دئ لګېدلى اويوازي په خبروکولو به يي بيعت ورڅخه اخيستلو .

عن أُميمة بنتُ رقيقة قالت : أتيت رسول الله صلى الله عليه وسلم في نسوة نبايعه فقلنا : نبايعك يا رسول الله , على أن لا نشرك بالله شيئاً, ولا نسرق, ولا نزني, ولا نقتل أولادنا, ولا نأتي ببهتان نفتريه بين أيدينا وأرجلنا, ولا نعصيك في معروف, فقال رسول الله- صلى الله عليه وسلم : " فيما استطعتن واطقتن " قالت : فقلنا: الله ورسوله أرحم بنا من أنفسنا ، هلم نبايعك يا رسول الله فقال : " إني لا أصافح النساء إنما قولي لمائة امرأة كقولي لامرأة واحدة أو مثل قولي لامرأة واحدة (الترمذي والنسائي و ابن ماجه وغيرهم)

أميمه بنت رقيقه رضي الله تعالى عنهاوايي چي زه په يوه ډله ښځو کي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغلم او ورته ومو ويل چي مونږ له تاسره يارسول الله په دې شيانو بيعت کوو چي له الله تعالى سره به شريک نه نيسواوغلابه نه کوو اوزنا به نه کوو اوخپل اولادونه به نه وژنو اونه به يوپه بل تورونه لګوواو نه به په نېکو کارونو کي ستا نافرماني کوورسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: چي څومره مو په وس کي وي او طاقت يي ولرئ مونږ

ورته وويل چي الله تعالی او دهغه رسول په مونږ زمونږ ترخپلو ځانونو زيات مهربانه دي مونږ ورته وويل چي لاس د راکړه چي بيعت درسره وکړو هغه راته وفرمايل : زه له ښځو سره دلاس روغبړ نکوم که سل ښځي وي هم په ويلو بيعت ورڅخه آخلم لکه له يوې ښځي څخه چي په خبرو کولو سره بيعت آخلم .

عن معقل بن يسار قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لأن يطعن في رأس رجل بمخيط من حديد خير له من أن يمسّ امرأة لا تحل له . (الطبري)

له معقل بن يسار رضي الله تعالی عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : داچي په تاسوکي يوڅوک په سرکي دفولادوپه ستن په زور ووهل شي تردې زيات غوره دی چي له هغي ښځي سره ولګيږي چي ده ته يي مس کول نه وي روا .

قال النووي في الأذكار وقد قال أصحابنا كلّ من حرم النظر إليه حرم مسّه ، بل المسّ أشد .

امام نووي وايي: هغه چاته چي ورته کتل يي حرام وي ورسره لګيدل هم حرام دی بلکه زياته ګناه لري (لکه دلاس روغبړ)

ويستثنى من عموم الأمر بالمصافحة: المرأة الأجنبية ، والأمرد الحسن (فتح الباري)

دلاس د روغبړ له حکم څخه پردۍ ښځي او ښايسته لويان خوبصورته هلکان مستثنی دي چي نارينه به يي نه ورسره کوي .

قال محمد بن عبد الله بن مهران : إنّ أبا عبد الله يعني أحمد بن حنبل سُئلَ عن الرجل يصافحُ المرأة : قال : لا وشدّد فيه جداً قلت : فيصافحها بثوبه ؟ قال : لا .

محمدبن عبد الله بن مهران وايي چي له امام احمد بن حنبل رحمة الله تعالى عليه څخه چاپوښتنه وکړه چي له پردۍ ښځي سره دلاس روغبړکولای شي.؟ هغه ورته وفرمايل:چي هېڅکله يي نشي کولای او ډېر زيات ټېنګار يي وکړبيايي ورڅخه وپوښتل: چي په جامه کي نغښتی لاس دروغبړ لپاره ورکولای شي ؟ هغه ورته وفرمايل چي نه يي شي ورکولای .

دلته چي مونږ د پردۍ ښځي ذکر کوو مقصد مو ورڅخه نامحرمي ښځي دي ولو که قريباني او له خپلوانو څخه وي خو حکم يي دپردۍ ښځي دی چي دلاس روغبړ ورسره کول حرام دی .

هغه اخلاقي فساد چي له غير محارمو سره دښځي دلاس په روغبړ کي مترتب کيږي په لاندي ډول دي .

(ا) غالباً دلاس دروغبړ په وخت کي دجانبينو شهواني انګېزې راپارېږي که له لېري فاصلې څخه دپردۍ ښځي ليدل دنارينه شهوت پاروي او اسلامي شريعت دا کتل حرام ګرزولی وي نو کله چي پردی نارينه اوښځه لاس په لاس کي ورکړي اودلاسونو

حرارت یو اوبل طرف احساس کړي څه فکر کوئ چي آیا دا به شهوت نه پاروي له دې ډول روغبړ څخه ستر فساد پورته کیږي اسلامي شریعت چي کوم شیان حرام ګرزوي موخه یي داوي چي دفساد مخه ونیسي او دلاس په روغبړ کي ستر فساد دی او شیطان په داسي حالت کي دتیارسئ په حال کي وي چي دجانبینو په زړونو کي ناپاکي وسوسې وراچوي .

(ب) له پردیو نارینه ووسره دلاس دروغبړ په وسیله دښځو حیاء په تدریجي بڼه ختمیږي او دا دتجربې له مخي ثابته شوي ده چي کله یوه ښځه دلومړي ځل لپاره له یوه نامحرم قریب سره مخامخ کیږي او دلاس روغبړ ورسره کوي زیاته په حیاء کي وي خو دوخت په تېرېدلو هغه خپل مخ هم ورته لوڅوي او کورته یي هم بې محرمه دنني کوي او اوږده مجلسونه هم ورسره کوي چي دا هرڅه مطلق حرام دي او په اسلامي شریعت کي ځای نلري اوچي کله حیاءله مېنځه ولاړه شي بیا به دنور فساد مخه څه شی نیسي .

(ج) له پردیو نارینه وو سره دښځي د لاس روغبړ دنارینه غیږت کموي : هغه مېړه او یا محرم چي دهغه په موجودیت کي یي ښځه یالور اویاخور له پردي نامحرم نارینه سره دلاس روغبړ کوي طبیعي خبره ده چي د وخت په تېرېدلو یي دغیرت درجه راښکته کیږي مونږ. له ځینو نارینه وو څخه چي دخپلي مېرمني په روغبړونوعادت وي داسي هم آورېدلي دي چي پردي سړي ته چي صرف شناخته یي وي او هېڅ دخپلوي رشته نه ورسره لري په ډېر

جرأت سره ورته ګیله کوي اووایی که زه په کور کي نه وم کور خو وو ورتللې به چاى او ډوډۍ به دخوړلي وو حال داچي په کور کي به يي يوازي تنهاښځه موجوده وي داځکه ورته وايي چي دغیرت احساس يي ختم شوى وي چي اصلي عامل يي په ابتداء کي همدغه دلاس روغبړونه وي کوم چي شريعت حرام ګرزولي دي ولوکه په ظاهري شکل خپل ځان مېلمه پال معرفي کوي .

ددې بحث په پاى کي مسلمانو ورونو اوخوېندو ته دا توصيه کيږي چي د اسلامي شريعت لارښووني په خپلوي پالني کي په جدي توګه په پام کي ونيسي داځکه چي داسلامي لارښوونو په عملي کولوکي دکورنيو دعزت او ناموسونو ساتنه ده او ديني لارښووني که تر هري پلمې لاندي شاته وغورځولي شي عواقب به يي له داسي اخلاقي فساد څخه پرته بل څه نه وي چي ګڼي خواوي به په لانجو کي لوېږي .

سره له دې چي هر پيغمبر دخپل امت دنرو اوښځو لپاره دپلار حيثيت لري او پيغمبران مخکي تر نبوت او وروسته له بعثت څخه له هري وړې اولويي ګناه څخه پاک او معصوم دي او رسول الله صلی الله عليه وسلم چي دالله تعالی غوره پيغمبر دي که له پرديو ښځو سره روغبړ کول روا واى هغه به ضرور په داسي وخت کي کړى واى چي له مسلمانو مېرمنو څخه يي داسلام لپاره بيعت اخېستلو، مونږ چي ژړونه او اعمال مو ټول تر ملاحظاتو لاندي دي اويوڅوک داسي نشي ويلاى چي هغه پاک دى څرنګه خپلو

Download From; AghaLibrary.com

ځانونو تهددې جرأت ورکوو چي خپل لاس د پردۍ ښځي په لاس کي دخپلوي په پلمه ورکوو؟

لیکنه: د ابو خلیل قدوسي

Download From; AghaLibrary.com